# د ښاغلی باری جهانی د شعرونو بیلګی

## سندره

اوربل يې ما په خوب کې پريشان ليدلې دې

قسمت مې د يارانو دغـــه شان لـيـد لـې دې

پـــه تـور د ا نتخاب له جنتو نو آ د م باسې

دعرش په کنګرو کې مې شيطان ليد لې دې

ټولی د قا بيلا نـو دها بيل پر وطن ګر ځي

دې خلکو ته په قهر مې آسمان لـيـد لې دې

د نوح په تد بيرونوچې يې زړونه نرم نه سول

پـــه برخه د د ې مځکې مې توپا ن ليد لې د ې

ازل مـــې پـــرلـمـــبــــو د وصل لاره ده ليـــکلې

خليل يم په انګار کې مې يز ذ دان ليد لې دې

د خـــپــلـو له شامـــتـــه دکنعان کوهې ته لويږو

تعبير مې د خو بونو بـــنـد يـــوان لـــيـــد لې دې

دعمر په سينا کې هر قد م د صنم کور د ې

دطور په سره لمبه کې مې مغان ليد لې دې

سنګسار ته يې راوړې دې دبل وطنه کا ڼې

ما چيغو د منصور لره مـــيـــدان لـيـد لې دې

نصيبه له دی موجه خلا صيده لکه چې نسته

دا ليک مې پر تـنـد ې د جا لوان ليد لې دې

ترڅو به مې رقيب راته دسيو رې په نوم ښيې

لښکر مې په وطن کې د جانان لـيـــد لې د ې

HOWD هـــوډ

راځه جهانې ويش کړو دالفت په ناره زړونه

له ليرې مې يو سيورې د کاروان ليد لې د ي

## غزل

يوه ورځ به دا جهان وي نه به ته يې نه به زه يم
هم به مځکه هم آسمان وي نه به ته يې نه به زه يم

سپين لاسونه د ساقي به ګرځوي پيالې د مُلو
سره جمع به ياران وي نه به ته يې نه به زه يم

د پانوس لمبې به سوځي يې فرياده وزرونه
بل محفل نور به رندان وي نه به ته يې نه به زه يم

تور لښکر به د اغيارو څوک په تور د ميني وژني
بل منصور بل به ايمان وي نه به ته يې نه به زه يم

د باطل نمرود به اور وي د حق چيغې شوروي
څوک خليل به ور روان وي نه به ته يې نه به زه يم

لا چښي به په خلوت کې غلې غلي شرابونه
ريا كار به زاهدان وي نه به ته يې نه به زه يم

څوک به ناځي څوک به خاندي څوک به مات وي تر غم لاندي
هم ساحل هم به توپان وي نه به ته يې نه به زه يم

بازاري ميني به پلوري اشاري دبورو سترګو
ګناهکار به عاشقان وي نه به ته يې نه به زه يم

له شهبازه به را اوري ((جهاني)) ستا غزلونه
ستا دميني به داستان وي نه به ته يې نه به زه يم

HOWD

# غزل

زه لکه پرخه په لویدلو کې چا نه ولیدم

لکه نسیم په تیریدلو کې چا نه ولیدم

دګل په غیږ کې مې یوه شپه په قسمت لیکلې

لکه شبنم په الو تلو کې چا نه ولیدم

پټ له پانوسه مې رنګین کړل دسا قې لاسونه

کرار کرار په سوځیدلو کې چا نه ولیدم

نه دشاعر نه دبورا سترګو ته ونښیدم

دغرونو ګل وم غوړیدلو کې چا نه ولیدم

نه تر وربل نه تر ګریوانه نه ترشونډو لاړم

پر اشیانه په رژیدلو کې چا نه ولیدم

خواږه خوبونه دځوانۍ لکه ځیلۍ تیریدل

دخیال مانۍ وم نړیدلو کې چا نه ولیدم

لکه نفس چه دعمرونو له محبسه وزې

دزولنوپه ما تولو کې چا نه ولیدم

لکه بیړی ګوګل مې ډک له فر یا دونو وړمه

شپه دتوپان وه ډوبیدلو کې چا نه ولیدم

دحق ناری مې له زندانه تر یزدانه تللې

دافسانو په جوړولو کې چا نه ولیدم

دجهانې په شان مې شپې کړې دیارانو سپینې

په تورو ورځو ژړیدلو کې چا نه ولیدم

# غزل

په دې ټولې کې چـــې روان شې تر زندانه ورځې

اوښکو ته مه ورښـــــیه لاری تر ګریـوانــه ورځې

قا صده لاره مـــــې پـیـــدا کړه مـنـــت مــه بـاروه

هره ناره چـی نـــن وهـــــمـه تــر جـانــانه ورځې

ما دکلیم له کــــوره را وړله دنـیـل خیـــا لـونـــه

اوس می په طـــــور کي هر آواز تر لامکا نه ورځې

دلته سا حـــــل دی دسپو ســــندري مــه شـرنګوه

څوک لـــیــوني په توره شپه کې تر تو پانه ورځــې

دي بلــبــلا نو دصیاد سره خـــــپـــلـوي کــړی ده

نه یې قاصد نه  یې ټولګې تر ګلستا نه ور ځــــې

دلته سندرو په قفس کي پـــیـــونــــدونه کـــړي

دا وزر وچی خدای خبر چه تـر بو ستا نه ورځـــې

ماویل زه به پا خوم پــــه چیـغـــو چـیغـو مـــړي

دلته ژوندې پر خپلو پـښو تر ګورستانه ورځــې

نه یې نومونه په ربات نــــه پــه منزل کښې آشـنـا

یو څو دسیوری غوندې پلونه تر کاروانه بــه ځې

داسرافیل په ږغ به پاڅی دا کـــاڼـــه غـــــوږونه

چي دقیامت ناري له مځکي تر آسمانــــه ورځـې

دجهانی سره کیســـــې دلمـــبـــــو مـــه یـــــادوه

چي دپتنګ وزر لـــړې تـــر شــــبستانـه ور ځـــې

## غزل

چي تللې وو دتشو پيمانو سره راځو
په او ښکو لمبيدلې له سلګو سره راځو
څه حکم دزمان څه به يې زور څه به ځنځير وی
در شل ته دی اشنا له زولنو سره راځو
سزا مو ده قبوله دخو بو نو دليدلو
کنعا نه يوه ورځ د تعبيرو سره را ځو
يوازی وزر ما تي له چمنه څخه ولاړم
دا زيری مې در باندی دسيلوسره را ځو
چي بيا دي تر قيا مته په ګوګل کی سړی نه سې
پا نوسه ځان تيار که دلمبو سره راځو
درځو چې زلزله سي دريا پر خلوتونو
محرابه نن دشيخ له جنازو سره راځو
چي پل درقيبانو دي په ښار کي پاته نه سې
يو زه يم يو قلم دی دګزمو سره را ځو
نن بيا لکه شبنم دجهانې سره در وزو
دشپو به زړه اوربل که د ډيووسره راځو

## غزل

د نيمو شپو په اوښکو می د رد ونه نه لمبوم
تڼاکي پر ليمو وړمه مزلونه لمبوم
سجدی ته د شيرينې مي تندی نه د ی راوړی
يو بول مې دی وهلی کلنګونه لمبوم
د تورو زلفو تور ته دی زيندی په غا ړه ځمه
زندان ته دی راغلی يم تورونه لمبوم

HOWD

بي ږغه بي رو يباره دشبنم پر اوږو راغلم

جانا نه نن دی کلې کې ګلو نه لمبوم

چې بيا يې له شيطا نو ستر ګو تښتې د يد نونه

له نوم د محتسبه ګود رونه لمبوم

چې تمه زما د مرګ د رته پيدا نه زاهده

دخضرپه چينه کې مې خيالونه لمبوم

پانوسه تما شې ته د محفل نه يم راغلی

لمبی درڅخه وړمه وزرونه لمبوم

نصيبه پا کوم دي داسمان له تورو ليکو

ازل ته ياغې سوی يم خطو نه لمبوم

يو زه يم جهانې يوه ټولی د ليونيو

د کاڼو په ما لت کې دې سرونه لمبوم

## غزل

پر رقيب چې مې اختر دی له جانانه مې ګيله ده

خپل جنون په کاڼو ولم له اسمانه مې ګيله ده

دهو ښيارو په ټولې کې نصيب ځای نه و راکړی

زولني نه رارسيږې له زندانه مې ګيله ده

نه ساحل ته سومه څيرمه نهله مو جه سره ولاړم

د څپو سره پا تيږم له تو پانه مې ګيله ده

نه د چا د پيکې يا ر يم نه دچا په تو ر سنګسار يم

نه بی لاري نه پر لار يم له خپل ځانه مې ګيله ده

اوس به څه رنګه خبر سم په اسرار د ليونيو

چې له ښو مې اغزې تښتې له بيا با نه مې ګيله ده

نه مې ځان موړ په ديدار کی نه مې ځان دغاړی هار کی

څه بې وخته يې سهار کی له آ ذ ا نه مې ګيله ده

نه مې وخندل سبا تــه نــه مې غــیــږ ورکــړه بـــورا تــه
نــه شــبــنـم مې راغی خــواتــه لــه با غـــبا نــه مــی ګیله ده
په ربات کې مې کړي سپینې څوانېمرګي شــپـــی دعـمـر
بې جرسه تر ما تــیر ســو لــه کاروانــه مـــــې ګیـلــه ده
جـــهانې رنـګه راځــمــه دســلــګـــیـــو پــه ګامـــونــو
زنکـــد ن می هـــر نــفـــس دی لــه د رمانه می ګیله ده

## غزل

کوڅې به دی خلوت سې غلــبــلې درخخه وړم
د زړه د پـــرهـــارونـــو جـنــازی د رخخه وړم
کلونــه مې ژړلې د نــاســـو رد تـــورو ورځـــو
آسمانه په کچکول کې مې نن شپې درخخه وړم
پردی نه یم راغلی تر محفل پـــوری پانـــوســـه
پتن یم په وزرو کې مې لمـبـې د رخـــخــه وړم
چې بـیـا دي له وعــد و ســره وانــه ړوی کلونه
لــه ســـرو نـا زکو شونډ و دې پلمې درخخه وړم
دتورو زلفو تـورو تــه مې تـنـدې د رتــه راوړی
څنځیر درخـــخــه غـــواړم زولـنی د رخخه وړم
نن څو دحق په کور کې د زاهــد فا تحــه اخــلـــو
مــنـــصور یمه راغلی غـر غـړی درخخه وړم
په غـــرو کې بــه دی پـــورته نه سې ږغ د لیونیو
کلنګ مې ما تــومــه افــســـــانې درخــخـــه وړم
چې نوم د جهانې دي له خوبونو سره هیـر ســـــې
له شپو څخه دي ؤزمه کـــیسې در خـــخــــه وړم

## غزل

ګونګې جنون مې د پردۍ مينې په تور مه نيسه
زما په محراب کي بيګانه سجدي په زور مه نيسه
ماته نصيب د ميني قبر پيښور ټاکلی
زه قلندر يم راته لاری دلاهور مه نيسه
يوه ځوانې وه لکه ګل پر څانګه ورژيده
د پسرلې په هديره کې راته کور مه نيسه
د لمر شغلې مې له وزره سره و اوډ لې
د خيال همای مې د تاريکو شپو به تور مه نيسه
لکه لښکر د پتنګانو بې فرياده سوځو
موږ د مجنون د سوو چيغو په پيغور مه نيسه
اوس که راځی د محتسب له سترګو پټه راځه
د ديدن لارې دبنګړو په شرنګ او شور مه نيسه
شپي د ليوانو د لښکرپه توره څو تيروې
د ما ر بچې دې ورته خپل لستو ڼی نور مه نيسه
په اشارو سره پوهيږو جا د وګر طبيبه
لاځو هو ښيار يم پرهارونو ته می ا ور مه نيسه
د جهانې شپو ته لا خپل حبيب راغلی نه دې
درد ونه مه راويښوه ورته ټکور مه نيسه

## غزل

وچې سولی اوښکی ګريوانونو ته به څه وايو
درد راسره خپل سو پرهارونو ته به څه وايو
شپې مو په ساحل کې دڅپو له وهمه وتښتې
وخت که ليونې سو تو پانونو ته به څه وايو
موږ خو نه ددار نه دسنګسارميدان ته ووتو

ا وس د رقـيبـانو پيغـورونو ته به څه وايــو

زمور له شونډومه غواړه زاهده دخلوت کيسه

مستی مو تو بې کړې تقديرونو ته به څه وايو

مامې په سکر وټو کې خيا لونه ور ليږلې وه

والوتل خوبو نه تعـبـيـر ونو ته به څه وا يـو

دلته چې راتلو شپې مو داور سره مـنـلي وې

روغ دې وزرونه پانو سونو ته به څه وايــو

سل وعدې مو هسې داو بو پر سر کړلې وې

ووايه روبباره پيغا مو نو تــه بــه څــه وايــو

ولي پردي ميني ته ليږو د جـهـانې غــــزل

کور ته د صنم ځو تصو يرونو ته به څه وايو

## غزل

مه وايه قاصدہ چـه بـهـار خـزان وهـلی دي

ســيـل مى د بـلـبـلو لـه چمنه کو چـيـد لی دي

يار مې داغيار په خوله لښکر دزاغ بللی دي

زه په دې سراب کې دقسمت په حکم ګرځمه

ما ته مې مـنـزل دانو داوښکو راشود لی د ي

زه لا دڅپـو غـيـږي نـوی ور وتـ-لې يـــم

مـه راځــه ســاحـلـه ما تـوپان کله ليد لی دې

کله زما تر سپينه لـمن تــور د زليخا راځې

ما تعبير د ميني پـه کنعان کي ا زميلی د ې

خو به راته لولي د فـر د وس د ميخانو کيسې

ما له د ی کوثره لا پـخوا نصيـب شړلي د ې

هره شـيـبـه اورمه جرس د کوچ ناري وهې

کور مى دحباب داشيا ني سره ټاکلـــی دې

مه لیږه تقد یر مي د سکند ر په ائـــینه پسي

فال می دقسمت په خپل اورغومی کی کتلي دې

نن لکه غـنې په تعبـیرونو پســـی ورک یمه

سرمې دجانان پر زنګانه په خوب لـید لي دې

چیری جهانې چیری دیدن چیری دیار کوڅه

زما ئېنې د لحد سره پردیس   کفـن لیکلی دې

## د هسی مستي

پرېږدئ زما لا سونه زه اورونه پـــــه لـــــــــــړمــــــــــه

زه په سوي مذهب پوه یم زه دوزخ ځانته کــــــــــرمـــــه

زه د خضر چینه سوځم نړوم د کوثـــــــــــــــر غــــــاړي

زه له مړه ژوندونه مور یم ما ژوندی لحد ورغـــواړي

زه د مست ګداب په غیر کي لاموجونـــــــــه ویښومه

زه په ستوني د ښامار کی مرګ لـــــــه خو به پا څومه

زه په زړه د جهنم کي ا نګارونه لـــــــتـــــــومــــــــه

ا هر یمن راپاړومه لایې ځا نته قـــــهــــرومـــــه

پرېږدئ پرېږدئ زما لاسونه زه اورونه په لـــــړمـــــه

زه په سوې مذهب پوه یم زه دوزخ ځانــــتـــه کـــرمه

پرېږدئ روښي دا تیاري کو پرېږدئ پې کودامزلـــونه

ټول په ګډه سره لمبه سو او روښان کـــــــوربــــاتونه

هود
HOWD

راځئ لنډي ګړو دا لاري ور هوار کو کړليــچـــــونه
د ژوندون د پاره ومروخوژوندي ګړو لـــــحـــدونه

په دې هيرو خرابو کي د هستی مـــــستې أغازګړو
دا دمرګ شپلۍ رڼا کوپکي کوک د ژوندون سازکو

زه شاعر يم د دي مېني زه سکوت ورمـــاتــــــومه
زه هاتف دژوندی چيغي زه دا مړي ويـــــــښــومه

## غزل

پيالي نســــکوروم دي تشو مه خـــــــو دې نــه
نصـــيبه بـــــــد لوم دي قبلومه خـــــودي نــــه
تقد ير ه زولنې دي دجانان ترکــوخـــې ورمـــه
زندانه نـــــړوم دي تــــېرومه خـــــودي نــه
ازل مي لېو نتوب دی له نامه ســـــره کـــرلـــي
ګرېوانه خيروم دي ټولو مـــه خــــودي نــــــه
دسرسودامنمه خوچي سرټيــــټول غــــواړي
قاصده ستنوم دي ورلېږمه خــــــــو دي نــه
خالق مي ککری سجدې ته نه دي پيــــدا کړي
تند به ماتوم دي لـــــګـــــومه خــــو دي نه
يا غي يم د فرياد د پاره نه يمـــــه راغـــلـي
أسمانه کنوم دي زړوم خــــــــودي نـــــه
د غره پر ژبه غواړم د شيريــــــنـــې د نوم ذکر
جنونه پاروم دي ويـــــــــدومــــه خو دي نه
زخمونه د حبيب دي د طبيب کوخې ته نه ځم
پر هاره شوروم دي رغومــه خــــــو دي نـــه
چې هر محراب ته خمه ستا جلوه پکي بليږي

HOWD

د یار د تصویر خاله هیرومه خو دي نه

چي شمېر د جهاني د ګناهونو باندي کیږي

زاهده ږندوم دي خپلومه خو دي نه

## غزل

د انتظار سترګې مې سرې وې ما دې لار خارله
د هیلو ورځې مې تیارې وې ما دې لار خارله

درته خیرات مې وزرونه نذرانه ایښي وو
ستا به په کوم پانوي کې شپې وې ما دې لار خارله

ژبې ګونګی وې ایشارو د تورو نکل کاوه
پاتې نسکورې پیمانې وې ما دې لار خارله

کلونه تېر وو لارو نه وایه تصیر د پلونو
هېرې د شپو خخه کیسې وې ما دې لار خارله

لکه یعقوب د کاروانو لارې مې سترګې کړلې
نصیب د مصر زولنې وې ما دې لار خارله

زما د شهیدو ارمانونو جنډې ونړېدې
ستا په مزار شناختې ویدې وې ما دې لار خارله

د ( جهاني ) قسمت رنظور انظار ورسیدی
د سترګو تور مې هدیرې وې ما دې لار خارله

# غزل

د شمعې په څېر سوځو له خپل ځانه سره ځو
که وصل که هجران وي د جانانه سره ځو
د تورو په حساب دي ورکې لارې د ترږمیو
منزل چاته معلوم دی د اسمانه سره ځو
تش نوم د ساحل اورو یو تصویر د بیړۍ وینو
په ځاځکو په ګامونو له توپانه سره ځو
سېراب یې نکړې شوندې سل کلونو سرابونو
له چغو سره راغلو له ارمانه سره ځو
شبنم غوندې مو لارې له ګلونو شولې ورکې
د اوښکو په زولۍ کې له ګرېوانه سره ځو
د غله دیدن شپېې یې لکه خوب هسې پناه شوې
په نیمه شپه کې راغلو د اذانه سره ځو
توښه مو په تندي کې د صنم سجدې اخیستې
احرام تړو پر لارې له مغانه سره ځو
زاهده په تیارو کې د تسپو غړونه اورم
کوثر ته دې روان کړو له شیطانه سره ځو
قاصده زما سلام دی په ټولي د رقیبانو
مونږ داسې مېلمانه یو د مېزبانه سره ځو
اغاز دی که انجام دی راز په سل پردو کې نغښتی
هوښیار که لېوني یو د زندانه سره ځو
د ژوند په راز پوه نه شو ( جهاني ) سبا به نه یو
یو څو بې نومه سیوري له کاروانه سره ځو

HOWD هود

www.howd.org